مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۱۲/۰۴

# په سوریه کې د عَلوي اقلیت د نیمې پیړۍ واکمني

په ۱۹۷۰م کال کې د سوریې د هوايي ځواکونو ۵۴ کلن تورن جنرال حافظ الاسد د خپل ګوند (البَعثُ العَرَبِي الإِشْتِرَاكِي) د مشرتابه په ضد، د یوشمېر منصبدارانو په مرسته بریالۍ عسکري کودتا وکړه. د بَعث د سوسیالیست ګوند انقلابي کنګرې نومړی د صدراعظم او دفاع د وزیر په توګه وټاکلو. یو کال وروسته، حافظ الاسد خپل ځان ولسمشر اعلان کړ او ۲۹ کاله یې د اور او اوسپنې حکومت وکړ؛ ترڅو په ۲۰۰۰م کال کې د وینې د سرطان له امله ومړ. د مرګ په سبانۍ ورځ یې ۳۵ کلن ځوئ، بشار الاسد چې د سترګو ډاکټر دی او هغه مهال په لندن کې اوسېده واک ترلاسه کړ. دا دی ۵۴ کاله وشول چې د علویانو (نُصَیریانو) ۹٪ اقلیت په ۸۴٪ سنیانو باندې واکمن دی.
د تېرکال د احصائې له مخې، د سوریې نفوس ۲۵ میلیونو ته رسي او د دمشق ترڅنګ ۱۳ ولایتونه لري چې حلب یې ترټولو ګڼ نفوسه ولایت او دوهم سیاسي او اقتصادي مرکز بلل کیږي. د دې ویاړلي هېواد پخوانی نوم بِلادُ الشَام دی کوم چې د اُمَوِي خِلافت پلازمېنه او د لسګونو زرو علمي او عرفاني شخصیتونو ټاټوبی دی. یو له دغو مهمو وروستنیو پوهانو څخه د iPhone او Apple کمپیوټر مخترع، سټیف جابز/ Steve Jobs دی چې پلار یې، عبدالفتاح جندالي د سوریې له حِمص څخه کلیفورنیا ته کډه شوېدی.
د ۱۹۸۲م کال په فبرورۍ کې د حافظ الاسد ځواکونو په حَمَاة کې د خپلو اسلامپالو مخالفینو سره د نښتې په ترس کې چې ۲۷ ورځې یې دوام وکړ، د بې پرې حقوقي څېړونکو له قوله ۳۵ زره عامو خلکو ژوند وبایللو او یولک وګړي له خپلو کورونو څخه وتلو ته اړشول. بشارالاسد هم د خپل ولس په وړاندې نه یواځې دا چې د پلار په پَل، پَل کېښود بلکې څو ګامونه نور هم مخکې ولاړ. کله چې د ۲۰۱۱م کال په پیل کې د تونس ځوانانو د عربي پسرلي په نوم ولسي پاڅون پیل کړ، نو د دغه توپان څپې ډېرې ژر د عربي نړۍ ختیزو څنډو ته ورسیدې. د تونس زین العابدین وتښتېد، د لیبیا معمر القذافي چې اصلا اسماعیلي شیعه وو، ووژل شو. د مصر حسني مبارک واک پرېښود او په یمن کې علي عبدالله صالح حوثي ملېشو ترور کړ. په دې ټولې مودې کې ایران د عربي پسرلي ټینګه ننګه کوله او هغه یې د ولسونو روا حق ګڼلو، مګر کله چې دغه سپرغۍ سوریه کې په سور انکار واوښتې، نو د ایران لهجه او اراده هم بدله شوه.
د نړیوالو څارونکو له نظره، بَشارُ الاسد د خپل هېواد د سوله ایزو پاڅون والو سره د خبرو په ځای، د مردکو لاره انتخاب کړه. ایران چې لا ترمخه یې عراق، لبنان او یمن د خپل ستراتېژیک عقیدوي اقلیم برخه ګڼله، په ټول ځواک سره د سوریې د علوي اقلیتي رژیم په څنګ کې ودرید. د جنرال قاسم سلیماني تر قومندې لاندې د سپاه قدس مجربو جنګیالیو او د فاطمیون او زینبیون مذهبي ملیشو د دغه نظام په پایښت کې ډېر ژور رول ولوبولو. همدا شان، حزب الله چې په لبنان کې له خپل حکومت سره یې متوازي پوځي تشکیل درلود، په زرګونو مذهبي وسله وال ځواکونه سوریې ته ولېږل. پخپله حسن نصرالله (د حزب الله پخواني عمومي منشي) چې ځان یې د ایران د ولایت فقیه عسکر بللو، عسکري دریشي په تن کړه او د سوریې جنګي لیکو ته لاړ؛ وېډیو ګانې یې اوس هم په یوټیوب کې ښکته پورته کیږي.
له ۲۰۱۱م څخه تر دې دمه، په سوریه کې له نیم میلیون څخه زیات کسان وژل شوي، ۶ ملیونه یې ترکیې، لبنان، اردن او غربي نړۍ ته تللي او ۷ میلیونه یې د کور دننه بېکوره شویدي. زه شخصا، هرځل چې ترکیې ته تللی یم د سوریې د مُهَذَب او تعلیم یافته خلکو ستونزمن حالت مې له نژدې څخه لیدلی چې په څومره بې صبرۍ سره خپلو کورونو ته د بېرته ستنېدو لارې څاري؟ سوریه اوسمهال د خپل ویاړلي تاریخ په ډېر دردوونکي پاړ ولاړ هېواد دی. یوازې نیمه خاوره یې د بشار الاسد د نظام په ولکه کې ده او په پاتې نیمایي کې د ایران، روسیې، آمریکا، ترکیې او حزب الله پوځي اډې دي، یا د هغوئ د نیابتي ډلو واکمني ده.
د تېرو شپږو ورځو راهیسې، هلته نقشه په حېرانوونکي ډول سره د بدلون په حال کې ده؛ د الاسد د نظام او مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ د ځواک تله درنیږي او کله سپکیږي. د حلب ښار په بشپړ ډول د واکمن رژیم د اتو بېلابېلو مخالفو نیمه پوځي ډلو په لاس کې کېوتی دی. ورسره جوخت، د اِدلِب مهم ښار هم بشار الاسد بایلود او جګړه اوس په جنوب کې د حَماة او حِمص لورو ته غزېدلې ده. د حَلَبْ چټک سقوط څرګندوي چې بشار الاسد ته وفادار ځواکونه څومره کمزوري او بې موراله دي؟ البته دا هېڅکله په دې معنا نه ده چې جګړه به ژر پای ته ورسیږي، ځکه نړیوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او سیمه ایز لوبغاړي هېڅکله دغسي رسوا ماته نه شي زغملای. د «قَناةُ التَغییر» تلویزیون یو تن میلمه وایي: (همدا اوس د عراق د الحَشْدُ الشَعبِي (ولسي لښکر) اوه زره مذهبي ملیشي د سوریې دِیرُالزور ولایت ته په لاره دي).
د بشار الاسد کاواکه حکومت د خپلي واکمنی په دېرو سختو شېبو کي راګېر دی. د دوو میاشتو دننه، د لبنان حزب الله د حسن نصرالله په ګډون خپل ګڼ شمېر مهم سیاسي مشران او پوځي قومندانان له لاسه ورکړي، روسان په اوکراین کي نښتي او ښایي له ترکانو سره کوم تفاهم ته رسېدلي وي. ایران هم په هغه پخواني درېځ کي نه دی پاتي، نړیوال اقتصادي بندېزونه، پرله پسي استخباراتي کمزوری، په سیمه کي د خپلو مهمو ائتلافي انډیوالانو او جبهو له لاسه ورکول او په امریکا کي د نوي ولسمشر راتګ؛ ټول هغه لاملونه دي چي د ایران اغېز کمرنګه کوي.
لږ وړاندې مي په یو عربي چېنل کي پرتلیزه مباحثه لیدله چي د سوریې د روان کړکېچ اړوند وه. دوه ټکي یې په زړه پوري وو؛ لومړی دا چي ایران او تقریبا ټول واکمن عربان په بېساري ډول د همدې لانجي په اړه له اندېښنو ډک یوشان درېځ لري او ټول د دغو وسله والو ډلو د مخنیوي په لټه کي دي. دوهم اړخ یې دا وو چي د سوریې ګڼ شمېر وسله والو ګروپونو ټولي خپلمنځي لانجي شاته پرېښي او په یوه خوله د دومره پراخي جګړې اداره او کنټرول د یوې قومندې تر چتر لاندې پرمخ بیایي چي پخوا یې چا تصور هم نه شو کولای؟ البته یوه مهمه ډله یې د ترهګرو په لېست کي ده.
د یو عیني واقعیت په توګه، د مذهبي شخړو ښکار شوې پراخه پرګني هیله مندي دي چي ټول اړخونه باید د مذهبي غچ پالیسی نوري مهار کړي. د حسین (رض) د شهادت او یزید په مرګ باندې ۱۳۴۴ کاله تېر شوي او هغوئ دواړه د الله تعالی حضور ته ورغلي دي. آیا زموږ ویني او اوښکي هغوئ ته څه سود یا زیان رسوي؟
یقینا، اوس د دې وخت را رسېدلی چي دغه کرکجني مذهبي جګړې پای وموميٍ او د قتلان او بهتان ځنځیرونه مات شي ترڅو له سوریې رانیولي تر پاړه چناره دا بېګناه امتیان د آرام ساه واخلي او په سوله کي ژوند وکړي. تاریخ ګواه دی چي هر جنګ ګټه او بایلات لري، خو د مذهبي جنګونو دواړه لوري له پیله په ماتي او زوال محکوم دي.
---

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نوري لیکني او څېړني د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کي ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



[د لیکوال نوري لیکني په دی لینک کي ولولي]()


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ